AREU
Afghanistan Research and Evaluation Unit

# معلوماتي پاڼه

ډيويډ منسفيلډ او آدم پين

د ۱۳۸۵ کال د وږی میاشت

ژباړونکی: احمد الله امرخیل

## د کوکنارو ریښې ایستل:
## که هیڅه له لاسه نه ورکوو نو خطر به څنګه لوړ شي؟

محتويات


۱) د کوکنارو له منځه وړل څه بدی لري؟
۲) د کوکنارو د له منځه وړلو نسبی اغیزمنتوب او اثر
۳) ایا د کوکنارو له منځه وړل د هغه د کرنی خطر زیاتوی؟
۴) په افغانستان کې د کوکنارو د ریښی ایستلو عملی کول
۵) کوم ځاي کې به د ریښی ایستلو برنامه ښايي د کوکنارو د کرنی خطر او د امکاناتو بیه لوړه کړي؟
۶) په مخکی لاری


### سریزه

په افغانستان کې د کوکنارو کرنه ښايي چې سږ کال لوړه شي. د لوړیدلو کچه به په ټول هیواد کې په یو خیر نوی او په څو خاصو سیمو کې به وي. په خاصه توګه، که اټکل سم وی نو، په جنوبی منطقه هلمند ولایت کې ښايي چې د کوکنارو له پاره ټاکل شوی ځمکه خاص وسعت ومومی، او ښايي چې له پخوانی حد څخه چې په ۱۹۹۹ کال کې ۴۵۰۰۰ هکتار ځمکه وه، هم زیاته شي. دغه لوړوالی په نورو ولایتو کې د کوکنارو د لړیدو د جبران له حد څخه هم زیات ښکاری.

۲۰۰۶ کال کې په افغانستان کې په مجموعی ډول د کرنی دغه لوړوالی د ځنو اشخاصو له خوا د یو علامی په شان تعریف شي چې د نشه یي توکو پر ضد د مبارزی او د پرمختګ اوسنی ستراتیژی په جدی توګه بیا کتنی ته اړتیا لري. بی له شکه، داسی اشخاص به وي چې د کوکنارو د له منځه وړلو (د محصول له منځه وړلو) له پاره د یو زیات جدی موقف نیولو اړتیا تاییدوی، ممکن د هوا له لاری سپری شیندل زیات کړی، ترڅو د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کال د کرنی فصل ته په نږدی کیدو سره، د بزګرانو په فکر کې د کوکنارو د کرنی ویره زیاته شي. جمعی رسنۍ چې هر کله په جمعی احصاییه باندی تمرکز کوی، په افغانستان کې د کلیواله معیشت متغیر ډینامیزم او همدارنګه د موقعیتونو تر منځ پیچلی روابط، د بی امنی

د لیکونکی په هکله. ډیویډ منسفیلډ د پوډرو په چاپیریال کې د پرمختګ یو متخصص دی چې ۱۵ کاله یې د کوکاینو او د کوکنارو تولیدوونکو ملکونو کې کار کړی دی، او له اتو کلونو څخه زیات په افغانستان کې د کلیواله معیشت په ستراتیژیو کې د کوکنارو د رول په هکله د څیړنو تجربه لري. آدم پین د تیرو ۱۵ کلونو له پاره د هیمالیا په سیمه کې د کلیواله معیشت په مسالو باندی کا رکړی دی. او د پرمختګ د مطالعو په ښوونځی، د شرقی انګلیا برتیانیې په پوهنتون کې د څیړنو مرستیال دی، او د سویډن د اوپسالا ښار زراعت پوهنتون، د ښاری او کلیواله پرمختګ د ډیپارتمنت له پروفیسورانو سره لیدنه کوی.

شرایط، او څنګه چې د کوکنارو کرنې پورې اړه لري خطر او د امکاناتو بیه، د رسنیو له پامه پاتې کیږي.

دغه معلوماتي پاڼه د کوکنارو د ریښي ایستلو او په افغانستان کې د هغه د کرنې د خطر بدلون سره ازمايي. او د پنځو کلونو ساحوي کار او همدارنګه په ۲۰۰۷ کال کې په څلورو بیلا بیلو ولایاتو، بلخ، غور، کندز، او ننګرهار کې شوي خیړنې تشریح کوي. دغه پاڼه داسې استدلال کوي چې یوازې د محصولاتو د تخریب د خطر آزمايیل چې په کلیواله کورنیو باندې راځي کافي نده، دا ځکه چې که چیرې د عاید نورې مشروع لارې موجودې وي یو بزګر به هیڅ کله ونه غواړي چې کوکنار وکري او بیا د هغه د ریښې ایستلو ضرر وزغمي.

برسیره پر دې، هغه خطر چې د ناامنۍ له شرایطو سره مل دی او د نشه يي توکو اکثره بزګران ور سره ژوند کوي د هغوی د کړو وړو اصلي څرګندوی دی او د مشروعیت په هکله ژور سوالونه را پورته کوي. د زیاتو بزګرانو له پاره دکوکنارو کرنې د امکاناتو بیه ډیره ټیټه تماميږي، او دغه کورنۍ به کرنې ته ادامه ورکړي، ممکن په هغو ځایونو کې چې د کوکنارو د ریښي ایستلو برنامې د کورنیو عایدات له منځه وړلي دي او قرضه يې زیاته کړي، د نشه يي تو کو کرنې ته اختصاص شوې ځمکه زیاته شي. د نورو بزګرانو چې په بازار کې ښه موقف لري او د ځمکې له شتمنۍ او اوبو څخه برخمن دي، د هغو له پاره د نشه يي توکو د کرنې امکانات زیات لوړ دي. د شرایطو له کبله، نشو کولای چې یوازې د انفرادي کورنیو په کړو وړو باندې د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې پر پالیسي تمرکز وکړو.

له ساحې څخه شواهد داسې څرګندوي چې په کومه طریقه چې د کوکنارو د ریښي ایستل په زیاتو سیمو کې پر مخ ځي د ناامنۍ له خپریدونکي شرایطو څخه، پر ځای د دې چې لیرې وي، له هغو سره نږدې اړیکې لري. دغې موضوع د کوکنارو د کرنې د زیاتیدو په خطر کې د هغو بزګرانو تر منځ چې تر ټولو څخه په لږه کچه په کوکنارو باندې د عاید د یوې منبع په توګه تکیه دي او د دغو توکو د کرنې له پاره تر ټولو لوړ امکانات لري، بړې ندې موندلې. د رشوه خوړلو موارد او له هغو خلکو ملاتړ چې یا سیاسي قدرت لري او یا ملاتړونکي اړیکې لري دغه مفکوره تقویه کوي چې شتمن خلک د کوکنارو په کرنه کې معافیت لري. او دغه باور چې یوازې خوار اشخاص دي چې محصول يې له ریښي ایستل کیږي او د نا مساواتو دغه ادراک، نارضایتۍ او د حکومت پر ضد احساسات نور هم زیاتوي.

**خطر** داسې یوه پدیده ده چې دارایې او یو با ارزښته شیز باندې یو باالقوه منفي اغیزه کوي چې د یوې پروسې او یا واقعې څخه را پورته کیږي. او کیدای شي چې د یو زرز او یا تهدید په سترګو ورته وګورو. د خطر ارځونه باید د یوې واقعې د پیښیدو امکان د واقعې له اثر سره یو ځای کړي.

**د امکاناتو بیه**، دغه اصطلاح په اقتصاد کې د یو فرصت څخه د ډډه کولو د بیې په مانا – او هغه منافع چې که تاسو بل کار کړی وی تر لاسه کړی به مو وی استعمالیږي. او کیدای شي د پیسو په اصطلاح هم استعمال شي او همدارنګه د هر هغه شیز له پاره چې د شخص له پاره د انتخاب په ټاکلو کې ارزښت لري.

# ۱. د کوکنارو ریبنې ایستل څه بدې لري؟

د ریبنې ایستل یو قوي اصطلاح ده – دغه لغت د عمل، قوت، او اداري مفهوم، اونظامي او طبيعي معناوې لري. د کوکنارو له ریبنې ایستل د محصول له منځه وړل معنا ځرګندوي. نو بیا له ریبنې ایستل که د کوکنارو د له منځه وړلو په مفهوم وي نو څه بدې لري؟ دغه پوښتنه په دوه ډوله ځواب لري شو. لمړی، دهغو خلکو له پاره ځواب چې وايي د ریبنې ایستلو برنامه اغیزمنه نده، د هغو خلکو له مفکورې چې وايي اغیزمنه ده او شواهد هم لري. دوهم، کولای شو ووایو چې له ریبنې ایستل د هیلو سرته رسول ندي – مطلب دا چې د محصولاتو له ریبنې ایستل د کوکنارو پایښونکي لړولوته نه رسیږي. په بل عبارت، د کوکنارو د ریبنې ایستلو پروسه ولې خپل هدف ته نه رسیږي؟

تیر کال په افغانستان کې د کوکنارو په ساحه کې په ځرګنده توګه ۲۱ فیصده رضایت موجود وو.[۱] ادعا شوي وه چې دغه رضایت د نشه يي توکو پر ضد د اوسنی پالیسۍ د برې شاهد او په خاصه توګه د تیري (د ریبنې ایسلو او تشویقولو برنامې) او د مشروع معیشت زیرمه، وړاندې کړې وه. په داسې حال کې چې سږ کال د کوکنارو کرنه ښايي لوړه شي. دغه مساله بیرته د ولایاتو هغو برخو ته ځکیدلې ده چیرې چې تیر کال موجوده نه وه.

د نشه يي توکو د کنټرول نوې ملي ستراتیژۍ ځان د کوکنارو د پایښونکي لړیدو په کامیابۍ کې مسؤله او له ریبنې ایستل د یو اصلي فعالیت په څیر نه بکلې د کوکنارو د له منځه وړلو له پاره یوازینې فعالیت ګڼي، او همدا چې بزګران پوره مشروع معیشت ته لاس رسنه پیدا کړي، د ریبنې ایستلو برنامه عملي کیدای شي.[۲] دغه موړته را یادوي چې له ریبنې ایستل باید چې د وزارت د وظایفو منځګړ توبونو برخه وي – په شمول د معیشت د بلې لارې – چې د نشې يي توکو پر ضد د مبارزې د موخې د برې له پاره طرح شوې ده. د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتيژي د کوکنارو د سوداګرې په سیستم کې د یو باورې اړولو تهدید او د ریبنې ایستلو له لارې د خطر تزریق ته ړومبې توب ورکوي او په همدې وخت کې اندازه ګیرې کوي چې مشروع کلیوال معیشت ته د انتقالیدو پروسه ګړندې کړي. یوازې په هغه ځای کې چې قانوني معیشت موجود وي د ریبنې ایستلو تهدید به استعمال شي تر څو د کوکنارو له کرنې څخه د لیرې کیدو انګیزې برابرې شي. لیکن قانوني/مشروع معیشت څه دي، او چیرې ښايي لوړ شي؟ او آیا د سوداګرې په سیستم کې او یا کرنه کې د خطر تزریق په هغه کچه چې توقوع ځې په همغه کچه به کار وکړي؟ او آیا دغه خطر به له نور خطرونو څخه چې بزګران ورسره مخامخ دي زیات وي؟

> یوازې په هغه ځای کې چې قانوني معیشت موجود وي د ریبنې ایستلو تهدید د کوکنارو له کرنې څخه د لیرې کیدو د انګیزو د برابرولو لپاره استعمالیږي.

---

[۱] د ملګرو ملتو د نشه يي توکو او جرايمو دفتر UNODC او د نشه يي تو کو پرضد د مبارزې وزارت، افغانستان، د کوکنارو سروې، د ۲۰۰۵ کال د نومبر میاشت، iii. د USG په داسې حال کې چې د راپور په وینا کرنه له ۲۰۲۷۰۰ څخه ۱۰۷۰۰۰ هکتار ځمکې ته را لږه شوې ده چې د کرنې ۴۸ فیصده لږوالی ځرګندوي.

[۲] د افغانستان اسلامي جمهوریت، د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې وزارت، د نشه يي توکو ملي ستراتیژي، کابل: د ۲۰۰۶ کال جنوري میاشت. www.fco.uk/Files/kfile/NDCS٪۲۰-٪۲۰Final%PDF٪۲۰version.pdf.

# ۲. د کوکنارو د ريښې ايستلو نسبي اغيزمنتوب او اثر

ځنې اشخاص له ريښې ايستل د خپل په ذات کې د يو پاى په بڼه ګورى. د محصولاتو عملی تخريب د کوکنارو د خپريدو او په هيروينو د بدليدو د پروسى او بلاخره په بين المللی بازار کې د سوداګرى مخنيوى کوى. هغه اشخاص چې د نشه يې توکو او د حکومت ضد قوو تر منځ د اړيکو د شتون ادعا کوى وايى، د موجودو کوکنارو په اندازه کې لږوني د بازار تر ټولو لوړ ارزښت ته د انتقاليدو په باالقوه توګه به د ياغى توب او تروريزم له پاره موجوده سرمايه کمه کړى.

د ريښې ايستلو برنامه د کوکنارو او کوکاينو اکثره توليدوونکو هيوادونو کې د نشه يې توکو د کنټرول يوه جامع برخه ګڼل کيږى. اوس کلمبيا هغه هيواد دى چې په زياته کچه د نشه يې توکو د ريښې ايستلو د برنامې له لارى د نشه يې توکو د توليد له منځه وړلو په منظور کار کوى. د "کلمبيا پلان" د ستراتيژى تر نامه لاندى، اټکل شوى دى چې د ۱۹۹۹ او ۲۰۰۴ کلونو تر منځ ۵۶۶۹۹۵ هکتار[3] کوکاين د ۴۵۳ ميليونو ډالرو قيمت په برابر تخريب شيو.[4] په ۲۰۰۵ کال کې تخميناً ۱۳۹۴۰۰ هکتار باندى سپرى وشيندل شوه او ۳۰۰۰۰ هکتار په عملى توګه له ريښې وايستل شو. کله چې له هوا څخه سپرى شيندل په ۱۹۹۲ کال کې پيل شو، په کلمبيا کې تخميناً ۶۷۲۰۰ هکتار کوکاين موجود وو. په ۱۹۹۹ کال کې د کلمبيا پلان له پيل سره، اټکل شوى سيمه ۱۲۲۵۰۰ هکتار وه؛ په ۲۰۰۵ کال کې دغه اندازه ۱۸ فيصده ۱۴۴۰۰۰ هکتار ته زياته شوى وه.[5] سره له دى چې داسى ادعا کيږى چې د ريښې ايستلو برنامې د کوکاينو د وسعت کچه لږه کړى وه، خو بې له شکه چې د لسو کلونو په مهال کې د نوموړى محصول سيمه نه وه لږه کړى.

نور هيوادونه چې غير قانوني نشه يې توکى پکى موجود دى، د ريښې ايستلو برنامې راز راز شيوى يې تجربه کړى دى. په خاصه توګه د تايلند هيواد د ريښې ايستلو لپاره عملى شيوه پر مخ بيولې ده، د دغه هيواد د نشه يې توکو د ريښې ايستلو د ټينګې پاليسۍ وروسته د ۱۹۷۰ کلونو په لمړيو کلونو کې د کليو خلک د تايلند د کميونيسټ ګوند په لاس ور کړل. د تايلند حکومت د ريښې ايستلو فعاليت تر هغه وخت پورى پريښودو تر څو چې لرى او لوړى سيمى د دولت د چطر لاندى جذب کړلې. په ۱۹۸۴ کال کې ريښې ايستلو برنامه يو ځل بيا معرفى شوه او يوازى په هغو سيمو کې چې خلکو کولاى شوى بې له دى چې په کوکنارو تکيه وکړى د رضايت وړ ژوند ولرى.[6]

[3] د بين المللی نشه يې توکو او د قانون د اړولو چارو دفتر، متحده ايالات خارجه وزارت، ۲۰۰۵ کال، د نشه يې توکو د کنټرول بين المللی ستراتيژى راپور، ۲۰۰۵ کال

[4] د متحده ايالاتو د حساب دهى دفتر، محترم چارلس اى ګرسلى، د مجلس ريس، د نشه يې توکو بين المللى د حزبى مشرانو مجلس، د متحده ايالاتو د سنا مجلس. د نشه يې توکو کنټرول: د هوايي پروګرام د مسؤنيت انديښنې په کوته شوى دى، خو کيداى شى د متحده ايالاتو د پلان جوړونې او بودجې پروسه پرمختللې شى. (GAO ۹۱۸-۰۴)، د ۲۰۰۴ کال د جولاى ۱۵مه نيټه

[5] د بين المللی نشه يې توکو او د قانون د اړولو چارو دفتر، متحده ايالات خارجه وزارت، ۲۰۰۵ کال، د نشه يې توکو د کنټرول بين المللی ستراتيژى راپور، ۲۰۰۵ کال. د نشه يې توکو د کنټرول د مطبوعاتو د پاليسى وينا به هکله د سپينى مانۍ دفتر، د ۲۰۰۶ کال د اپريل ۱۴مه نيټه، www.whitehousedrgpolicy.gov/NEWS/press۰۶/۰۴۱۴۰۶.html

[6] د دغې مسالى سره د معامله کولو يوه مناسبه لاره د تايلند جرمن دغرنى سيمى د کنټرول په پروګرام کې چيرى چې بزګرانو ته د شفقت په ډول له څلورو تر پنځو کلونو فرصت ورکړ شو، په دغه وخت کې د پرمختګ فعاليت د اړولو څخه مخکى پر مخ بيول شو. په حقيقت کې د نام لنګ پروژى په سيمه کې د قانون د اړولو اندازه تقريباً د اتو کلونو له پاره تطبيق نشوه ځکه چې د کوکنارو کرنه د انحطاط په حال کې وه. يوازى په دوو وروستيو کلونو کې يوازى په هغو سيمو کې چې د کوکنارو کرنه بيا لوړه شوى وه غوښول يې بيا پيل شو. د قانون د اړولو اټکل په سيمو کې چيرى چې سنعتګر بزګران هيله لرى چې د پروژى له انکشافى کار او همدارنګه د نشه يې توکو له توليد دواړو څخه ګټه اوچته کړى. پيرکاسم، کونک، او داسى نورکسان. لاره د تايلند جرمن دغرنى سيمى د کنټرول پروګرام، بين المللى پانه، شميره ۱۷۹: د ارځونه مطالعه نام لنګ: د جون مياشت د ۹۲، ۱۹۹۹ کلونه

په ۱۹۸۷ کال کې د پاکستان په شمال لویدځ ولایت ګاډن امازي کې د نشه يي توکو د ریښې ایستلو کامپاین کې د ۱۳ اشخاصو مړینه منتج په دې شوه چې حکومت یوه لا محتاطه شیوه خپله کړه. وروسته بیا، د شمال لویدیځ په ډیر ولسوالی کې د ۱۹۹۰ کلونو له وسط څخه، د ریښې ایستلو برنامه په مرحلو کې پرمخ بیول کیده، او وروسته له پراخي انکشافي مرستې په درو کې سرته ورسیده. ۱۹۹۸ او ۱۹۹۹ کلونو کې وروسته له دې چې حکومت په دې پوه شو چې د لا زیاتو انکشافي مرستو د لاسته راوړلو له پاره د ټولنو رهبرانو د ډیر ولسوالۍ په لرې سیمو کې د کوکنارو کرنه تشویق کړې وه، نو بیا یې د کوکنارو په زور له ریښې ایستل تر څو داسې یو پیغام ورسوي چې د اتو کلونو انکشافي مرستې څخه وروسته د کوکنارو کرنه د منلو وړ نده. د بین المللي پرمختګ له پاره د متحده ایالاتو اداری USAID راپور ورکړو چې په دغه ساحه کې د دغې اداری تر ټولو بریالي پروژې هغه وې چې پرمختګ یې د قانون له اړولو سره یو لاس کړو او د کوکنارو د ریښې ایستلو برنامه یې په تدریج سره د عایداتو نویو امکاناتو لوړیدو سره یوځای پیښیدو ته پریښوده.

په داسې مهال کې چې د ریښې ایستلو د برنامې اغیزې د غیر قانوني نشه يي توکو د کرنې سره په سیمو کې اخښلې دي، د ریښې ایستلو برنامې راپور د هغو خلکو په ژوند او معیشت باندې اغیزې چې کوکنار کري، ډیره لږه مثبته ارځونه وړاندې کوي. د نشه يي توکو له یو شمیر تولیدوونکو هیوادونو څخه شواهد موجود دي چې د زیاتو خوارو او حاشیه ای تولیدوونکو له پاره د غیر قانوني نشه يي توکو د ریښې ایستلو برنامې د عاید قانوني منابع ته د لاس رسنې د زیاتیدو پر ځای خواری زیاته کړې ده. [7] په هغو ساحو کې چیرې چې مځکې له مځکې لا د مهاجرت تاریخچه موجوده ده، لکه د لاتین امریکا او جنوب شرقي اسیا نشه يي توکو تولیدوونکو سیمو کې، د ریښې ایستلو رنامې دواړه خلک او د کوکنارو کرنه سیمې ته بیرته راستانه کړې دي.

د یو راپور پر بنسټ د خلکو او د کوکنارو د کرنې بیرته ستون په چاپیریال باندې منفي اغیزې - د ځنګلونو له منځه تلل او د ډول ډول کروندیو او څارویو امکاناتو له لاسه ورکول په پای کې درلودلي. اټکل څرګندوي چې د ۱۹۷۰ کلونو په لومړیو او د ۱۹۸۰ کلونو په پای کې د امازون ځنګلونو ۷۰۰۰۰۰ هکتاره د کوکاینو د کرنې له پاره له ونو څخه سفا شوو. [8] په ۱۹۹۰ کلونو کې په پیرو او بولیویا کې د کوکنارو د ریښې ایستلو له کبله کوکاین کرونکو یو شمیر ملي پارکونو باندې هم تیری وکړو. د تیری دغه مثال کلمبیا هیواد کې د ۲۰مې پیړې په لمړیو کلونو کې تکرار شو. [9]

د یو بل راپور په وینا په ۱۹۹۱ کال کې د پر هوالاګا دره کې د فنجې (هغه ډول نباتات چې پاڼې ګل او شین رنګ نلري لکه مرخیړی) فوساریم اوګزیسپورم (Fusaruim oxysporum) د خپریدو تخمیناً ۱۲۵۰۰ هکتار کوکاین تخریب کړې دی. بر سیره پر دې په ۱۹۸۸ او ۱۹۹۴ کلونو کې د جنوبي پیرو په اپریمک انی دره کې (Apurimac-Ene) کورنی بیا ځای پر ځای شوي او په زیاتو لوړو او لاس رسنې څخه لرې ساحو کې د کوکاینو کرنه پیل کړه، چې له دې سره د کرنې کچه دوه ګونې شوه، په نتیجه کې د غرونو لمنې لوڅې شوې او سیلابونه

---

[7] په میانمر کې، شان ایالت ته د ملګرو ملتو د ۱۹۹۱ کال یو هیات بیان کړه چې، د کوکنارو د ریښې ایستلو د پروګرام لاندې کلیو کې دغه هیات وموندله چې زیاتره کورنۍ له بې حده خوارۍ او لوږې سره مخامخ وو. د نوموړي پروګرام په لمړي کال کې دغو خلکو د مرستو په غلې باندې او د خپلو د څارویو په خرڅولو سره ژوند وکړو. په دووم کال کې هغوی نه پوهیږې چې څنګه ژوند وکړي. دغو شرایطو په ټولو کورنیو باندې او خصوصاً په خواره طبقه باندې اغیزه کړې ده. د عوایدو د نشتون یوه نتیجه دا ده چې د باراني فصل د خواړو د تخمونو له پاره د سرې اخیستل ډیر ستونځمن دي، او خواری زیاتوي. GTZ، ۱۹۹۷ کال، په اسیا کې نشه يي توکي او پرمختګ: لنډه تاریخچه او مباحثوي پاڼه، GTZ: اشبورن.

[8] د کوکاینو کرنې پیل په اروپناکو او امازون ډنډونو کې د ۱۲۰۰۰۰ او ۲۴۰۰۰۰ هکتار په شاو خوا کې ځنګلونه تخریب کړې دي؛ او په کلمبیا کې په هر کال کې ۳۰ فیصده ځنګلونو تخریب اټکل شوی دی. په انډین زون کې تقریباً له ۲۰۰۰۰ تر ۱۰۰۰۰۰ هکتار ځنګل چې د استوګن پوهې له اړخه د زیات ارزښت وړ دي، او دغه ارقام د حنګلونو د تخریب ۱۵ فیصده کچه وړاندې کوي، د کلمبیا هیواد خارجه وزارت، د وزیر قایم مقام، د سولې له پاره سیاسي ۸م لیک، د ۱۹۹۹ کال د جولای میاشت.

[9] د ملګرو ملتونو د نشه يي موادو او جرایمو دفتر UNODC راپور ورکړو چې په ۲۰۰۵ کال کې د هیواد له ۵۰ ملي پارکونو څخه په ۱۳ پارکونو کې د کوکاینو کرنه موندل شوې وه. GoC/UNODC، ۲۰۰۵ کال، د کلمبیا هیواد د کوکاینو سروې ۲۰۰۴ کال، ۲۳ مخ.

زیات شو.[10] نوموړی راپور وايي چې د کوکاینو د کرنې بیا ستنیدو په دغو سیمو کې د ځنګلونو له منځه وړلو کچه نوره هم زیاته کړې ده ددې له پاره چې کورنۍ د هغه یو هکتار ځمکې پر ځای چې د کوکاینو له پاره یې سافه کړې اوس د خواړو د محصول د کرنې او د څارویو د ساتنې له پاره درې هکتاره ځمکه سافوي.

داسې شواهد هم شته چې د کوکنارو ریښې ایستلو باندې له حده زیات ټینګار د سیاسي بې ثباتۍ د کمولو پر ځای د سیاسي بې ثباتۍ زیاتیدو سره لا مرسته کړې ده. په میانمر، پیرو او کلمبیا کې د کوکنارو د ریښې ایستنه باعث شوې ده چې خلک د دولت د کنټرول څخه بهر سیمو کې او د غیر دولتي فعالینو تر لاس لاندې ځای پر ځای شي. ځنې تحلیل کوونکو پیشنهاد کړی وو چې د پیرو دولت په ۱۹۸۹ کال کې سپرې شیندل بند کړل ځکه چې دغه کامپاین د کوکاینو د کرونکو تر منځ زیاتیدونکې نفاق ته مخه کړې وه او د ماوګرایانو د ملیشاوو حمایت یې زیات کړی وو.[11] د یو راپور په وینا په کلمبیا کې دولت د سپرې پاشلو کامپاین د کلمبیا انقلابي غیر نظامي وسله واله سرتیرو د زیاتیدونکې حرکت د حمایې باعث ګرځیدلی وو.[12]

حتی په بولیوا کې چې د لاتین امریکې په مقایسه یو باثباته دولت دی، په ۲۰۰۱ کال کې په یونګاس منطقعه کې زوروري ناکراری (د کوکاینو د کرونکو او د قانون د اړولو د کارکوونکو د مړینې په شمول) دولت دې ته اړ کړو چې د ریښې ایستنې برنامې پالیسې په شاه وتمبوی او په چاپړا منطقه کې دغه برنامه ورو کړي. ځنې اشخاص حتی داسې استدلال کوي چې د ولس مشرانو سانچز دی لوزادا او کارلوس میسا حکومت د کوکنارو د ریښې ایستلو د برنامې مخالفت په ۲۰۰۵ کال کې د ولس مشر ایوو مورالس، چې د کوکاینو پخوانی کرونکی او د کوکاینو د اتحادیې مشروو، په ټاکلو کې یو پیاوړی رول ولوباوو.

افغانستان، چیرې چې میشت شرایط د بشپړ سقوط له پاره ټول لازم حالات لري، په رښتیا سره چې، په فقر، امنیت او سیاسي ثبات باندې د ریښې ایستلو نامناسبې برنامې بالقوه منفي اثرات باید چې زیات جدي ونیول شي.[13]

> داسې شواهد هم شته چې د کوکنارو د ریښې ایستلو برنامه باندې له حده زیات ټینګار د سیاسي بې ثباتۍ د کمولو پر ځای له سیاسي بې ثباتۍ سره لا مرسته کړې ده. په میانمر، پیرو او کلمبیا کې د کوکنارو د ریښې ایستنې برنامه باعث شوې ده چې خلک د دولت د کنټرول څخه بهر سیمو کې او د غیر دولتي فعالینو تر لاس لاندې ځای پر ځای شي.

[10] د مګرو ملتو د نشه یې توکو کنټرول بین المللي پروګرام، ۱۹۹۵ کال، Desarrollo Alternativo del Valle Del Rio Apurimac-Ene د ای ډی او پی ای ار پروژه ۹۵/۹۳۹، لیما: د ملګرو ملتو د نشه یې توکو د کنټرول بین المللي پروګرام UNDCP.

[11] د پخو کوکاینو له ریښې ایستلو د کوکاینو د پاڼې د تولید د له منځه وړلو له پاره هڅې، د بزګرانو تر منځ د نفاق او د تروریزم د رشد پرمخ بیولو په واسطه، ګډې وډې کړې دي. د یو است اید / پیرو د پرمختګ بدیله پروژه. (۰۳۴۸-۵۲۷) د ۱۹۹۵ کال د جون میاشت، ۲.

[12] د *Fumigacion y Conflicto: Pliticas antidrogas y delegetimacion del Esdado del Colombia*، مطالعه چې د اکسین انډینا او د انتقالي بنیاد له خوا اجرا شوه، زیاتوي چې د سپرې پاشلو عمل یو ډول کیمیایي ناولتیا، د کورنیو ناپاکي او لا زیاتو زان منونکو ځایونو ته د خهاجرت ورانوونکې دایره رامنځته کړې ده.

[13] د برنټ بوبن، له هرج او مرج څخه آرامي ته د افغانستان نا مطمنه اوښتنه. د بهرنیو اړیکو په هکله جرګه، د سی اس ار شمیره ۱۲، د ۲۰۰۶ کال د مارچ میاشت.

# ۳. آیا د کوکنارو د ریښې ایستلو برنامه د هغو د کرنې خطر زیاتوي؟

د کوکنارو د له منځه وړلو له پاره د ریښې ایستلو د شیوې ملاتړونکي اشخاص استدلال کوي چې کوکنارو د له منځه وړلو د خطر د خپرولو په واسطه به بزګران د کوکنارو له کرلو څخه لاس واخلي. شواهد څرګندوي چې دغه انګیرنه د افرادو د ګټو اوج ته رسونه د اقتصاد نیو کلاسیک موډل پر اساس نیمګړې ده: هغو کورنیو چې خپل محصول د ریښې ایستلو د برنامې په واسته له لاسه ورکړې دی داسې رفتار نکوي. حتی چیرې چې کوکنار د دوو ځلو له پاره له ریښې ایستل شوی دی، بزګران بیا هم کوکنار کري، او ځنې یې حتی د وقف شوې ځمکې اندازه په راتلونکو فصلونو کې زیاتوي تر څو پخوانی ضرر جبران کړي.[۴]

حتی د کورنې د سلوک د نیمګړې موډل په قبلولو سره، تر څو د ریښې ایستنې خطر د کرنې د یو منع کوونکي په بڼه عمل وکړي، اړیانوونکې نده چې یوه کورنۍ مجبوره ده چې مالي ضرر قبول کړي، نه یوازې د محصول د له منځه تللو له کبله (چې له درمن څخه مخکې ډیر لږ وي) خو د باالقوه عواید یا سرمایې، چې که چیرې هغوی بل محصول کرلی وی او یا د بزګرې څخه بغیر څه کار یې کړي وي، نو هغه به یې تر لاسه کړي وی.

خو د ټاکلو لپاره نور محصولات څه دي او چیرې دي؟ په هغو مناطقو کې چې بازارونو ته لاس رسنه ظعیفه ده یا الهي طبیعي منابع ظعیفه او د بازارونو نافذې تقاضاوې محدودې دي، د ټاکنې لپاره لږ محصولات موجود دي. په دغه شان یو ځای کې، یوه کورنۍ چې په لوړه کچه په کوکنارو ډاډه ده او د اساسي اړتیاوو د پوره کولو له پاره نوری لارې نه لري، په هغه کورنۍ باندې د ریښې ایستلو برنامه څه خطر تحمیلوي. یو بزګر به د عاید باالقوه ضرر چې کیدای شي د کوکنارو د کرنې پر ځای د ګلانو او یا میوې د کرنې له کبله رامنځته شوې وي، په پام کې و نه نیسي، ځکه چې حتی که او به هم موجودې وي داسې یو بازار نشته چې د هغو محصول هلته وپلورې.

په دغه سیمو کې د بزګرې څخه بغیر د عوایدو امکانات هم محدود ښکاري. ځکه خو کله چې کورنۍ د کوکنارو د کرنې په هکله پریکړه کوي هغوی دا فکر نکوي چې که چیرې د کورنې غړو په دغه محصول باندې کار نکولی هغوی به څومره عواید تر لاسه کړې وی. سره له دې چې د مزدورکارۍ له پاره مهاجرت یو څه عواید لري، خو دا هم هرکله، د کار د نه اټکل کیدونکي طبیعت له کبله او د کورنې د یو ځای ژوند کولو د هیلې له کبله، غوره انتخاب نه ګڼل کیږي. د کورنې د فزیکي امنیت له پاره هم په کورنۍ کې د نرینه غړو شتون ته اړتیا وي، چې دغه هم مهاجرت محدودوي.

ځکه نو، په یو چاپیریال کې چې د عاید قانوني لارې محدودې وي، د کوکنارو د کرلو او بیا بیرته تخریبیدو د امکاناتو قیمت د کوکنارو پر ځای د غنمو له کرنې سره یو اندازه دي. خو بیا هم، د ځمکې د ساحې، د محصول او د کورنې د اندازې په پام کې نیولو سره، زیاتره کورنۍ به له غنمو څخه د خپلې کورنې د خواړو د برابرولو له پاره پوره حاصل تر لاسه نکړي. که هغوی د کوکنارو له کرنې څخه لاس واخلي او غنم وکري نو کورنۍ به یې وږې پاتې شي؛ او که هغوی کوکنار هم وکري او بیا هغه ویجاړ شي نو بیا به یې هم کورنۍ له وږې سره مخامخ شي. په دغه شان شرایطو کې د کوکنارو د کرنې د امکاناتو بیه حتی یوازې د ریښې ایستلو سره د مخامخ کیدو له ویرې هم ډیره ټیټه ده.

د کوکنارو د نه کرنې په پریکړې سره، یوه کورنۍ د قرضې اعتبار چې د حاصل په ضمانت یې د پیشکي په بڼه تر لاسه کولای شي او یا د جنسونو په قرضه اخیستلو اعتبار له لاسه ورکوي، په شمول د دارو درمل. ځمکې ته لاس رسنه به هم د سمبالولو او هم د تقاضا له نظره محدوده شي. چیرې چې د

[۴] ډیویډ منسفیلډ، د تورو تیارو سپړل: په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۷ کال کې د کوکنارو د کرلو پر پریکړو باندې د عاملینو د نفوذ براورد. د افغانستان د نشه یې توکو د ریاستونو واحد (د برتانیې دولت) د ۲۰۰۷ کال د فبروری میاشت.

کوکنارو په ساحه کې کموالی وی، د هغو کسانو له پاره چې ځمکه په اجاره او يا په نيمه غواړي لږه ځمکه موجوده وی. قانونی محصولات لږ زحمت ته اړتيا لری، په دی معنی چې يوه کورنی چې ځمکه لری کولای شی د کورنی د غړو په زحمت خپله ځمکه اداره کړی.[15] کوم شخص چې ځمکه په نيمه اخلی او د کوکنارو له کرنی څخه ډډه کوی د هغه له پاره لږ امکانات موجود دی.

په کومو سيمو کې چې بازارونه ظعيف دی، د کوکنارو د ريښې ايستل نه يوازی د بزګرانو په پريکړه باندی اغيزه نه کوی خو حتی په راتلونکی کلونو کې د کوکنارو د کرنی په زياتيدو انجاميږی، ځکه چې کورنۍ غواړی تر څو هغه ضرر (او قرضی) چې په هغوی باندی د کوکنارو د ويجاړيدو له کبله تحميل شوی، جبران کړی. ښايې چې کورنۍ حتی د کوکنارو د وار وار له منځه وړلو په اثر باندی خپلې پريکړې چې د کورنيو سرمايې څنګه ځاي پر ځاي شی يا منابعو ته لاس رسنه څنګه وساتل شی، جوړې کړی. په نتيجه کې، کوم ځاي کې چې د قانونی عوايدو لاری کمی وی، او د عايداتو، ځمکی او قرضی د لاسته راوړلو له پاره په کوکنارو باندی تابعيت لوړ وی، د خطر/ويری په تزريقولو سره به د کوکنارو د ريښې ايستلو برنامه کاميابه نشی. برعکس دا به د هغو خلکو په مقابل کې چې د ريښې ايستلو برنامه په مخ بيايې، خپګان زيات کړی، او همدارنګه به د حکومت ضد قواوو څخه حمايت زيات کړی.

په جغرافيايې مناطقو کې چې ښه بازارونه او ښی طبيعی زيرمی لری، خصوصاً اوبه، هلته د هغو محصولاتو له پاره چې په بازار کې پلورل کيږی (لکه ميوه او ترکاری) تقاضا له کوکنارو څخه ښه وی. په دغه شان له امکاناتو ډک ځاي کې سرمايه لرونکی کورنۍ د محصول د ټاکلو او د بزګری څخه پرته فرصتونو، رښتنی لاری لری، او په دغه شان ځای کې د کوکنارو د کرنی امکاناتو بيه څرګنده وی. که يوه کورنۍ وغواړی چې ځمکه کوکنارو ته اختصاص ورکړی او بيا هغه ويجاړه شی، نو هغوی به له هغو عايداتو څخه چې هغوی کولای شوی د نورو لوړو ارزښتو محصولاتو په کرنه تر لاسه کړی وی، بی برخی شی. کولای شو ووايو چې په دغه شان ځای کې حتی بزګران کولای شی چې له درمند څخه مخکی د خپل د محصول په بدل پيشکی پيسی واخلی، څنګه چې موږ په ننګرهار ولايت کې په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال کې دغه شان مساله وليده. د فارم او يا بزګری نورو عايداتو منابعو باندی هم کولای شو چې زحمت وکښاګو، لکه د لبنياتو توليداو وچ واښه. سر بيره پر دی، که داسی محصولات وکرل شی چې لږ کار او زحمت غواړی نو د کورنيو غړی به د معماری کارونو او د ولاياتو په مرکز کې د سوداګری له پاره بی کاره وی. او کولای شو ووايو چې په دغه شان ځايونو کې که کورنۍ کوکنار وکری نو هغوی بل څه له لاسه ورکوی، او د ريښې ايستلو تهديد په باالقوه ډول کولای شی د هغوی سلوک بدل کړی.

په داسی حال کې چې، په دغه شان شرايطو کې خطر د عايداتو منابعو او دارايې ته د لاس رسنی له خطر څخه ښه نتيجه ورکوی. څه شی چې بايد په ګوته شی هغه د شرايطو زيات خطرناکتوب (ټولنيزه، بازاری او بنسټيزه اړيکی) دی چې زياتره بزګران د هغه په بنياد پريکړې کوی. د نا امنی رژيم چې د افغانستان د خصوصيت ښه ده بزګرانو ته د انتخاب لږه لاره پريږدی، مګر داچې د اوسمهال لپاره خطر ومنی او د راتلونکی په هکله هيڅ فکر هم ونکړی.[16] تر څو چې د فعاليت لپاره يو قانونی او مشروع شرايط موجود نوی، انسان نشی کولای چې د قانونی معيشت د پيدا کولو په هکله خبری وکړی.

[15] جان ډبليو ميلر، *په افغانستان کې د بزګری پرمختګ او کوکنار*، يو اس ايډ/رمپ پروژه، د نړيوال بانک د جنوبی آسيا کليواله پرمختګ جلسه کې پيشکش، د ۲۰۰۵ کال د مارچ ۳مه نيټه.

[16] يان ګاف او جيوف ووډ ، ۲۰۰۴ کال، *په اسيا، افريقا او لاتين امريکی کې د نا امنی او سوکالی رژيمونه: د پرمختګ په شرايطو کې ټولنيزه پاليسی*، د کامبريدج پوهنتون چاپ.

# ۴. په افغانستان کې د کوکنارو د ریښې ایستلو د برنامې عملي کول

په ۲۰۰۵ کال کې، د ملګرو ملتو د جرایمو او نشه يي توکو دفتر ګزارش ورکړو چې په افغانستان کې له ۵۰۰۰ هکتارو څخه کم کوکنار له ریښې وکښل شو. که داسې وي چې د کوکنارو ساحه د ریښې ایستلو څخه مخکې ۱۱۰۰۰۰ هکتاره وه، او د کوکنارو د ریښې ایستلو د ویرې او یا خطر تصور په منظمه توګه خپور شي، دغه پورتنۍ اندازه څرګندوي چې له هر شلو هکتارو څخه یوازې یو هکتار ځمکه تخریب شوې ده. په ۲۰۰۶ کال کې، د تخریب ساحه شاید دوه ګونې شوې وي. د ریښې ایستلو د برنامې مدافعین د بزګرانو په حساب کې چې راتلونکي کال ته څه وکري، د خطر دغه کچه کافي نه ګڼي.

د کوکنارو د پراخوالي په پام کې نیولو سره، منطق دغه شان استدلال ته محدود ځای ورکوي. څنګه چې بحث وشو، خطر یوازې په هغه ځای کې تزریقیږي چیرې چې د عاید نور امکانات موجود وي، چیرې چې د کوکنارو له کرنې سره د امکاناتو قیمت مل وي، او چیرې چې د کوکنارو د کرنې قیمت د ناامنۍ د رژیم له قیمت څخه وړاندې وي. خطر یوازې په داسې حال کې معنی ورکوي چې هغه بزګران د کومو له پاره چې د امکاناتو قیمت لوړ وي پوه شي چې د نورو بزګرانو په شان د هغوی د محصول د تخریبېدو امکان هم شته. په کومه طریقه چې د ریښې ایستلو برنامه په تیرو کلونو کې او بیا په ۲۰۰۶ کال کې اجرا شوه، څرګندوي چې قضیه دغه نه ده. ځکه خو، د ریښې ایستلو پروسه د ناامنۍ د رژیم او د ناکامه حکومت داري یوه برخه ده، د دې پر ځای چې ترې جدا وي.

تر اوسه پورې، له ساحې څخه شواهد د یو سیستماتیک د ریښې ایستلو کامپاین څخه ډېر ظعیفه دي. په ۲۰۰۵ کال کې د بزګرانو تر منځ انګیرنه داسې وه چې د ریښې ایستلو د برنامې هدف یوازې خوار او سړک ته نږدې خلک دي.[17] په اکثرو ساحو کې، د ریښې ایستلو برنامې د ساري فساد په اړوند راپورونه موجود وو. د مثال په توګه، د فراه ولایت ګلستان ولسوالۍ کې له خلکو سره چې مرکه وشوه د هغو تر منځ د نظریو موافقه موجوده وه چې د محلي مقاماتو له خوا د ریښې ایستلو د برنامې موخه د عایداتو د جوړولو له پاره ده نه دا چې کوکنار له منځه یوسي. په نورو ولایاتو کې، لکه بلخ او بدخشان، زیاتره کسانو سره چې مرکه وشوه ویېیل یې چې، هغه اشخاص چې رشوه ورکوي او ورکولای شي هغوی خپل محصول له لاسه نه ده ورکړی. د مثال په توګه، د بلخ ولایت چار بولک ولسوالۍ کې (د کلیو د پراخوالي پر بنسټ) له ۴۰۰۰ څخه تر ۸۰۰۰ افغانۍ محلي مقاماتو ته ورکوي تر څو هغوی یوازې یو سرسري کامپاین تر سره کړي. د بدخشان کاشم ولسوالۍ کې راپورونه وايي چې زیاتره شتمن اشخاص د ولسوالۍ په اداري څانګه کې د روابطو په استفادې سره د ریښې ایستلو له کامپاین څخه معافیت لري. هلمند ولایت کې، دغې برنامې مقاماتو ته دا موقع مساعده کړه چې د کوکنارو په اقتصاد باندې لا زیات کنټرول ولري.[18]

۲۰۰۶ کال کې، د ریښې ایستلو د کامپاین ورته کیسې موجودې وې، چې دغه کامپاین د پرنسیپو پر ځای په شخصي اړیکو باندې ولاړ دی. په بلخ کې، د ریښې ایستلو په هکله رسمي راپورونو د ساحې لیدنې سره سمون نه درلودو، او زیات قوي کلي د ریښې ایستلو برنامې پر ځای کولو کې کامیابه نشکاریدل.[19] د راپورونو پر بنسټ په هلمند کې د ریښې ایستلو برنامه په هدفمندۍ کې انتخابي او د قدرت سوا استفادې لاندې په مخ ځي.[20]

ننګرهار کې، په ۲۰۰۶ کال کې د ریښې ایستلو لپاره یوه ریښتنې طریقه اتخاذ شوه. د ښار مرکز ته نږدې ټیټو درو او د جلال آباد سیند تر غاړې د کوکنارو کرنه وزغمل شوه. په رښتیا سره، اول

[17] ډیوېډ منسفلډ، د تورو تیارو سپېل، ۱۷م مخ.

[18] آدم پېین، *په هلمند او غور کې د تریاکو سوداګري*، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداره، د ۲۰۰۶ کال د جنوري میاشت.

[19] آدم پېین، *د اوبو اداره، څاروي او د تریاکو اقتصاد: بلخ او کندز کې د کوکنارو کرنه*، کابل، د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداره. د ۲۰۰۶ کال د جون میاشت، ۲۰م مخ.

[20] هلمند د جګړې په ډګر کې: *په جنوبي افغانستان کې د یاغي توب بدلیدونکې طبیعت او د هیواد په راتلونکې باندې د هغه اثر*، د سنلیس شورا، د ۲۰۰۶ کال د جون میاشت، ۴۴ – ۴۵ مخ پورې.

داچې په هغه ځای کې د کوکنارو د کر ډېر لږ شواهد موجود دي. او بیا ، محلي مقامات د دغه ولایت د ځنو زیاتو لرې ولسوالیو د تیر کال له مکمل بندیز څخه وروسته د خواری کچې څخه ښه خبر دي. او کولای شو ووایو چې د شدید عکس العمل او د دولت ضد قواوو زیاتیدونکې ملاتړ له ویرې، هغوی د دغو سیمو خلکو باندې ډېر زور ندی اچولی.

په بدل یې، کلیو کې څو جریب ځمکه د تخریبیدو له پاره وټاکل شوه، او داچې د څا ځمکه ویجاړه شي دا پریکړه یې د خلکو په غاړه پرېښووله. او بزګران چې محصول یې له ړیښې وایستل شو د کلیوالو له خوا د هغوی ضرر جبران شو. لا تر اوسه څرګنده نده چې د ریښې ایستلو محدودول او د ټولنې خلکو تر منځ د تحمیل شوی قیمت ویشل د راتلونکې کال په کرنه باندې څه اغیزه ولری، خو ښایې چې دغه کار د پاریدنې مخنیوی سره مرسته وکړه.

په مجموع کې، تر هغه حده پورې چې د ریښې ایستلو پروسه د قدرت میشتو جوړښتونو برخه ده، تر کومه حده پورې چې د ریښې ایستلو برنامه په مخ تلای شي په اوس مهال کې رښتینې شکونه موجود دي. اغیزناکه، او هدفمنده ریښې ایستلو برنامه امن او سپیڅلې حکومت داری چاپیریال غواړي. او د هغو اشخاصو له پاره چې د کوکنارو د کرنې له لاری خپل ژوند په مخ بیایې د عاید نورو قانونی منابعو د موجودیت له پاره هم دغه لومړی شرط ده.

# ۵. کوم ځاي کې به ښایې د ریښې ایستلو برنامه د کوکنارو د کرنې خطر او د امکاناتو بیه لوړه کړي؟

څرګنده ده چې اکثره هغه بزګران د ریښې ایستلو د برنامې خطر احساسوی چې د عایداتو قانونی او د ژوند وړ نوری لږې لاری لری. د ریښې ایستلو له لاری د نشه یې توکو د کرنې خطر لوړول د نشه یې توکو کرنې ساحې د لږولو له پاره یو لازمی خو بشپړ شرط ندی. د ژوند وړ عایدد لارو انکشاف او بلاخره د کوکنار د کرنې د امکاناتو د بیې د لوړولو له پاره باید ډېر کار وکړو. له ساحې څخه شواهد څرګندوی چې په هغو سیمو کې چې د کوکنارو د کرنې د امکاناتو قیمت لوړ دی، هلته کرنه د مخه لا لږه ده، او ښکاروی چې د ریښې ایستلو برنامې ته به اړتیا هم نوی. د څلورو مختلفو ولایاتو د ساحوی کار او په دغو ولایاتو کې د بدلونونو پر بنسټ، موږ د خطر متفاوت طبیعت او د امکاناتو قیمت د موقعیت پر اساس او ـ د سمی اصطلاح د نشتون له کبله ـ د قدرت دریځ پر اساس سپړو.

## ننګرهار: په مرکز کې هم خطر او هم د امکاناتو قیمت لوړ ول

د ننګرهار ولایت د نشه یې توکو پر ضد د مبارزې هڅو د بریالیتوب د یوې کیسې په شان کتل کیږی؛ ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال کې په دغه ولایت کې د کوکنارو په کرنه کې ۹۲ فیصده لږوالی رامنځته شو. او ځکه خو دغه ولایت د ځانګړی پاملرنې وړ ده. د خطر او د امکاناتو د قیمت نمونې – او کرنې سره مل نمونې – د موقعیت او له بازار څخه د واټن په پام کې نیولو سره په پراخه کچه تشریح کیدای شي. دری پراخه ناحیې را پیژندلې شو.

لومړۍ ناحیه/زون کې، د ننګرهار مرکز جلال آباد ته نږدې، راښه شواهد موجود دی چې د کوکنارو کرنې د امکاناتو قیمت لوړ شوی دی. د لاس رسنې وړ دغو سیمو کې دغې موضوع د ریښې ایستلو خطر سره یو ځاي د کوکنارو کرنه نه خوښیدونکې لاره ثابته کړې ده. په داسې حال کې چې کولای شو په یو وخت کې دوه تخمه وکرو (لکه کدو، رومی بانجان، پیاز او ورپسې بیا ګوپی) چې نه یوازی ښه ګټه لری بلکه د محصول د تدریجی طبیعت له کبله، چې د ښار د ترکاری سوداګرانو د پیشکی پیسو او قرضو

له خوا حمایه کیږي، د کوکنارو کرل او بیا یې د ویجاړیدلو تماشه کول به یو بې ځایه کار وي. په ځمکه کې د کورنیو څارویو او د خرڅولو له پاره واښه هم کرلی شو.

د کوکنارو د کرنې له پاره د کار او زحمت اختصاص ورکولو د امکاناتو قیمت هم د هغو سیمو له پاره چې ښار ته نږدې دي پورته کیږي. کله چې په معمارۍ، سوداګرۍ او یا په دولت کې د کار امکانات وي نو هیڅ دلیل نشته چې د کوکنارو په کرنه کار وشي او بیا هغه له ریښې وایستل شي. ځمکه چې واښه ورکوي او د څارویو ساتنې سره، د جلال آباد ښار کې لبنیات لکه شیدې او مستې خرڅیږي. چې دغه هم په نسبي توګه امنې ساحې دي، او په زراعتي اجناسو باندې د مالیاتو تحمیلوونکو چک پوستونو نشتو سوداګرانو ته د لا زیاتې ګټې موقع مساعدوي. سرخرود، بهسود او کامه ولسوالیو کې چیرې چې د عاید دغه لارې موجودې دي، د بزګرانو د پریکړې بدلولو له پاره د ریښې ایستلو د برنامې تهدید هم کافي وو.

دوهمه ناحیه بیا په پورتنۍ ډول نده، دغه ناحیه له جلال آباد څخه تر ټولو زیاته لرې ده، چیرې چې دارایې لکه، ځمکه، اوبونې او فزیکي زیربنا ته لاس رسنه ستونځمنه او نا امنې پیاوړې ده. په ۲۰۰۵ کال کې د کوکنارو د کرنې له ډراماټیک لږیدو څخه وروسته دغه زون ته په ۲۰۰۷ کال کې د کوکنارو کرنه بیرته راستنه شوې.

په هغو سیمو کې چیرې چې د کوکنارو کرنه د کورنیو د عاید یوه ستره منبع وه، په ۲۰۰۵ کال کې د کوکنارو په کرنه د بندیز تحمیلیدو سره په دغو سیمو کې د شتمنیو کمښت رامنځته شو. همدا چې بندیز په پوره زور سره پرځای شو، تر ټولو لمړي د خواړو کیفیت او کمیت ضایعات وزغمل. د کورنیو په خواړو کې غوښه او میوه لږه شوه.

سره له دې چې، د هغو ځایونو په پرتله چې لا ښه منابع لرې، په شینوار او آچین ولسوالیو کې کورنیو غنم د کوکنارو پر ځای وکرل. هغوی د بزګرۍ د عایداتو او بازاري تقاضا د نشتون له کبله خپل د زراعتي تولیداتو ښه بدله نکړه. په سیمه کې د بزګرۍ او بزګرۍ څخه پرته عایداتو له سقوط او قرضې ته د لاس رسنې له سقوط سره، چې ټول د کوکنارو د ډراماټیکې لږیدو له کبله دي، کورنیو بې له دې چې خپله شتمنې وپلوري بله لارې ندرلوده. د کورنیو شتمنې په یوه سلسله کې په پلورلو کښیښول شوه، چې د نیستې ښکاره نښه ده. پیسو ته د اړتیا په وخت کې، تر ټولو لمړې چې خرڅه شوه د کوکنارو/تریاکو پاتې زخیره وه، وروسته څاروي او بیا طلا، لوښې او د بزګرۍ اسباب وپلورل شو. د ځمکې ګرو ورکولو قضیې او په زیاتو وختو کې د پلورلو قضیې موجودې وې (اکثره هغو خلکو ته چې په سیمه کې د کوکنارو سوداګري کوي). د کار له پاره له سیمې څخه بهر مهاجرت کیدو، او اکثره به یې د کوکنارو په ځمکو باندې (لکه په بلخ کې چې کوکنار مخ په زیاتیدو وو او نورستان چې تازه یې دغه کار پیل کاوو) د لوګر په توګه کار کاوو. په دغه سیمه کې د ریښې ایستلو پروګرام د خلکو په خوارولو منتج شوې دی.

۲۰۰۷ کال کې، دغو کورنیو ونشو کولای چې بې له زراعتي عاید څخه دوه پر له پسې کلونه وزغمي نو بیرته یې د کوکنارو کرنې ته مخه کړه او اکثره بزګرانو وییل چې له خطر سره بې له دې چې د کوکنارو کرنې ته مخه وکړي بله هیڅ چاره نلري. د ژوند وړ قانوني عایداتو د امکاناتو او شتمنیو نشتون په دې معنې وو چې که محصول تخریب هم شي نو ډیر څه له لاسه نه ځي. بر اچین چیرې چې په ۲۰۰۵ کال کې د کوکنارو کرنه لږه شوه خو نه چې له منځه ولاړه، او ۸۰ تر ۱۰۰ کورنیو خپله ځمکه سږکال د کوکنارو کرنې ته وقف کړه. ۲۰۰۷ کال کې په کوز اچین او بر شینوار کې کرنه د ۴۰ او ۸۰ کورنې ځمکې په اندازه تفاوت درلودو. همدا چې بزګرانو د کوکنارو کرنې ته مخه وکړه پور اخستلو ته لاس رسنه بیرته لوړه شوه، هم د راتلونکې محصول په ضمانت د نغدو پیشو پیشکې قرضه او هم د اجناسو په قرضه اخستل (که څه هم د ۲۰۰۴ کال له کچې څخه ټیټه)، او همدارنګه د هغو کورنیو له پاره چې د کوکنارو کرنې له پاره ځمکه په نیمه او یا په اجاره غوښتله د ځمکې امکانات زیات شو.

دریمه ناحیه، د لمړې او دوهمې ناحیې تر منځ ځای پر ځای ده، او د ولایت مرکز ته ښه لاس رسنه لرې، او په دوهم کال کې هم په زیاته کچه د کوکنارو له کرنې څخه ډډه کړې ده. لکه کوز شینوا او رودات، دغه سیمې د ترکارۍ سیمه ییزه مارکیټ چې له جلال آباد څخه را چاپیر دي، د هغه د عملیات هاخوا پرتې دي، او ځکه نو زیاتره غنم کرې. د ترکارۍ د تولیداتو شواهد لږ دي ځکه چې بازار یې ظعیف دی: ظعیفه زیربنا، د وړلو او راوړلو بیه، او د بزګرۍ محدود عایداتو له کبله. چک پوستونه چې د محلي مقاماتو له خوا جوړ شوې دي قانوني اجناسو باندې مالیات تحمیلوي چې دغه مساله د قانوني اجناسو پیرودلو حاشیې

لړوی. له بلې خوا د دریمې ناحیې موقعیت داسې دی چې بزګران د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې کوښښونه چې د مقاماتو له خوا تحمیلیږي، هغه ته ډېر نږدې دي، ټولنیزه تقسیماتو او ظعیفه شبکو تر اوسه پورې د هغوی له پاره د اړایستلو د کچو پر مخ دریدل نور هم ستونځمن کړې دي (که څه هم د محلي مقاماتو سره دښمنې د زیاتیدو په حال کې ده).

۲۰۰۶ کال کې، ډېرو لږو کورنیو ته د پلورلو له پاره شتمنې پاتې وې. پرته له شتمنو اشخاصو څخه د تریاکو زخیرې لږې شوې وې؛ یو څه ځاروې پاتې دي خو د خواړو د اخستلو له پاره پلورل کیږي. د زیاتو ځمکو د پلورلو او ګرو کولو شواهد موجود دي. جلال آباد ته فاصله او د تلو او راتلو قیمت داسې دی چې کورنې ښار ته هره ورځ د کار د لټون له پاره تلې نشي. په دې دلیل موسمي/فصلي مهاجرت یوازنې لاره ده، او بیا هم داسې ګزارش شوي وو چې د کورنې نارینه غړي د کوکنارو د درمن په وخت کې شمالي ولایتونو ته د کار له پاره ځي.

په دغو ساحو کې، دوهم کال کې قرضه اخستل هم ستونځمن کار دی. خلک چې شتمنې نلري، د هغو له پاره د تریاکو په ضمانت د پیشکي پیسو اخستلو امکان نشته، نغدي او جنسي پور اخستل تقریباً نا ممکنه کار ده. پاکستان ته د کورنیو د تللو زیات راپورونه موجود دي. څنګه چې ۲۰۰۵ کال کې په بر شینوار او کوز آچین کې د بر شینوار او رودات د اصلي اوبو کانال سیمه کې لږې ځمکې د کوکنارو کرنې ته اختصاص ورکړ شوې دي. دغه مساله داسې نور شواهد وړاندې کوي چې د کورنیو پاسرې ختمې شوې دي او دا چې ښایې د کوکنارو کرنه په ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کال کې سیمې ته په پراخه توګه بیرته راستنه شي.

## بلخ: خطر، د امکاناتو قیمت او د اوبو د شتون اړیکې سره ښکارول

برخلاف د ننګرهار، بلخ کې د اصلي مارکیت له مرکز څخه فاصله نده چې د کوکنارو د کرنې په اړه د خطر او د امکاناتو د بیې د نمونو بنیاد څرګندوي، بلکه د اوبو لګونې د لږو اوبو او پیچلي سیستم دي. د ولسوالیو تر منځ او په خپله ولسوالیو کې د خطر د نمونو تر منځ توپیر موجود دی؛ او څه چې د بحث لوړ ده هغه دا ده چې تاسو څوک یاست او د اوبو لګونې په سیستم کې ستاسو موقف څه دی.

قوي شواهد موجود دي چې بلخ کې د اوبو لګونې اداري موسسو ټولې کچې له منځه تللې دي، او د اوبو ویشنه یې د غیر رسمي زورمندانو په لاس کې پریښې ده. د اوبو لږ جریان، د اوبو له پاره د تقاضاوو زیاتیدل، د محصول سخته پروسه چې د زراعتي سیمو د لږولو او د غیر زراعتي استفادو د زیاتیدو له خوا چلیږي، د اوبو تقاضا یې د اسبابو له تقاضا څخه زیاته کړې ده.

۲۰۰۵ کال کې په بلخ کې د کوکنارو کرنه ۲۸ فیصده په دریو ولایاتو چې تر ټولو سر زورې وو محدوده وه (بلخ، چار بولک، او چمتل). دغه څلور ولسوالۍ د اوبو لګونې د سیستم په مرکز کې ځای پر ځای دي. د اسیا انکشافي بانک راپور ورکوي چې د دغه سیستم اوو سترو کانالونو د سیند تقریباً نیمايي اوبه اخستلې په داسې حال کې چې یوازې د څلورمې برخې حق یې درلودو.[21]

ښکارې چې د چمتل او چار بولک ولسوالیو تر منځ د کوکنارو د کرنې نمونې توپیر لرې. پخوا، د بزګرانو په وینا او د ساحې د ارزیابۍ پر بنسټ، د کوکنارو کرنه په زیاته کچه د ولسوالۍ د کانال لویدیځې پایې ته محدوده ښکارې. د پوره اوبو نشتون کوکنارو کرنې سره مرسته کوي، ځکه چې کوکنار د لږو اوبو په وجود هم ښه محصول ورکوي. په دغه سیمه کې دومره اوبه دي چې یوازې د کوکنارو د کرنې له پاره پوره دي او د بل هیڅ شي د پاره نه پوره کیږي، نو ځکه خو د کوکنارو د نه کرنې د امکاناتو قیمت ډېر لوړ دی. د ولسوالۍ د کانال سرچینې ته نږدې برخې، چې لاس رسنې ته نږدې او پوره اوبه لري، په هغه ځای کې د دوه ګونه محصولاتو سیستم ساتل شوی دی.

برخلاف د دې، (په شمال کې) د چار بولک د سیند کوزې سیمې، د اوبو له نشتون سره مخامخ دي، چې حتی د څښلو اوبه هم نلري. هلته نه کوکنار کرل کیږي او نه هم بل څه. له سیمې څخه بهر د کار کولو له کبله په کلیو کې لږ خلک موجود دي. د قدرت جوړښتونه کوم چې د مزار – شبرغان سړک په یوه کیلو متړی فاصله کې د

[21] د آسیا انکشافي بانک، ۲۰۰۴ کال، *د اضطراري حالت د زیربنا او بیا رغونې پور د افغانستان د اوبو لګونې برخه*، تخنیکي مرستې د راپور مسوده، ۳۰م مخ.

کوکنارو په کرلو معافیت لری او د ولسوالی د اوبولګونی د ستری برخی نیونه د ګلانو او میوو محصولات او د کوکنارو کرنی څخه حمایت کوی. هغه قدرت چې د کوکنارو د کرنی خطر لږوی، او مفاد چې ترلاسه کیږی، واړه په دغه ځای کې د کوکنارو د کرنی دوه اصلی عاملین دی.

نو ځکه خو د بلخ د اوبو لګونی د برنامی له پاره اساسی مساله دا ده چې د اوبو ویشنی اصول په عمل کې کار وکړی. د اسبابو د تقاضا له حد څخه د اوبو د تقاضا د زیاتیدو په پام کی نیولو سره، د دغه مسالی حل ډیر ستونځمن ښکاری. تر څو چې دغه ستونځه په ګوته کیږی، هغه سیمی چې یوازی د کوکنارو د کرنی له پاره پوره اوبه لری، د ژوند وړ قانونی بزګری عاید امکانات به د ریښی ایستلو د برنامی خطر لږ کړی. د کوکنارو کروونکی چې هم اوبه او هم د قانونی عاید امکانات لری، کله چې د ناامنی په رژیم کې بدلون راشی د هغو لپاره به د ریښی ایستلو برنامه یوازی یو خطر وی.

## غور: په یو حاشیوی چاپیریال کې حاشیوی محصول

۱۹۹۸ کال کې د لومړی ځل لپاره غور ولایت کې د کوکنارو د کرنی ځرک وموندل شو. خو ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ کال کې د قیمتونو د لوړ والی او د طالبانو ممانعت څخه وروسته د کوکنارو کرنه د ژوند وړ یوه لاره جوړه شوه. او اوس چې د ۲۰۰۱ کال د یو کیلو ګرام ۵۰۰ ډالره بیه د ۲۰۰۲ کال ۸۰ ډالرو ته راولیدلی، د کوکنارو د کرنی د امکاناتو بیه لوړه شوی ده. د غور په مساله کې د کوکنارو د کرنی ویره د ریښی ایستلو له برنامی څخه نه بلکه د ظعیفه حاصل او بی حاصلی څخه ده. د ژمی او پسرلی یخه هوا، د کوکنارو لویېدو په دوران کې د اوبو بی اعتباره سیستم او د بزګری ظعیفه تخنیکونه ټول د دغه محصول د تولید په خلاف کار کوی. په همدغه دلیل ښایې چې د کوکنارو ساحه لږه پاتې شوی ده.

د افغانستان د کلیوالـه للمی ځمکو برخو کې د هر ډول محصولاتو کرنه او بیا له هغه څخه د حاصل اخستلو د امکاناتو بیه لوړه ده. هغه سیمی چې د هیواد له پاتی برخی څخه جلا دی، د ژمی تر پنځو میاشتو پوری دغه بیه لا لوړه ده. کوکنارو ته د ځمکی اخص کول د غنمو او د واښو له کرنی څخه تیریدل دی، چې غنم او واښه په غور کې د معیشت د ستراتیژیو ستره برخه ده.

د دغه ولایت د لری واټن او د ژمی په میاشتو کې د خواړو او د واښو لوړ قیمت له کبله، د غنمو او د واښو نه کرلو د امکاناتو بیه د درمن په وخت کې د هغو د تبادلی ارزښت څخه ډیره لوړه ده.

غور ولایت کې د کورنیو له پاره د عایداتو غیر زراعتی او زراعتی منابع مهمه دی. ایران ته مهاجرت او په معماریو کې کار کول د ورځی له ۳۰۰ تر ۵۰۰ عاید لری. حتی په یو وخت کې چې د کوکنارو قیمت په نسبی توګه لوړ وی، هیڅ کورنی به دغه عاید د داسی محصول له پاره پری نګدی چې لږ او یا هم هیڅ حاصل نلری.

په نتیجه کې، د غور ولایت په چغچران او شهرک ولسوالیو کې کوکنار یو حاشیوی محصول دی. هلته د کوکنارو کرنه دریو لوړو او وسطی برخو باندی چیری چې نسبتاً د اوبو سمه توښه موجوده ده، محدوده ده. د کوکنارو کرنه زیاتره د کورنی تر ټولو ځوان غړی او به ځنو ځایونو کې ښځی تر سره رسوی، ځکه چې په دغه حالت کې کورنی د نورو کارونو امکان له لاسه نه ورکوی او د کوکنارو د کرنی امکانات ورته لوړ نه تمامیږی.

## کندز: ولی په دغه ولایت کې کوکنار دومره لږ دی؟

د دغه سوال پوښتنه مهمه ده چې ولی په کندز کې د هغه د دوه ګاونډیو ولایاتو پر خلاف، هیڅ کوکنار نه کرل کیږی. یو ولایت کې چې له بلخ او هلمند سره یو شانته ساختاری بنی لری (لکه د اوبو لګونی یو ستر سیستم) د کوکنارو د کرنی له څرګند نشتون څخه به موږ څه زده کړو؟

۱۹۹۹ او ۲۰۰۰ کلونو کې کندز د کوکنارو د کرنی یوه متواضع تاریخچه لری، چې د قلعه ذال ولسوالی د اوبولګونی سیستم په څنډو کې په ۲۰۰۵ کال کې کوکنار کرل شوی وو. لومړی دا چې ترکمن خلک چې له ډیری زمانی را په دی خوا د خپلی استفادی له پاره کوکنار کری او بل د بدخشان د کوکنارو ځمکو باندی د کار له تجربی څخه ښکاره ده چې د هغوی کوکنار کرل زده دی.

کندز ولایت د تاجکستان هیواد سره د سرحد لرلو له کبله د نشه یي توکو د ټرافیک ستره لاره ګڼل کیږي. همدارنګه په دغه ولایت کې د اوبو اداري موسسې د قدرت سوء استفاده کړې دی او د برې غاړې او کوزې غاړې تر منځ د اوبو ویشنې په انصاف کې ستري مسالې موجودې دي. داسې راپورونه موجود دي چې د ولایتي رسمي اداري کارکوونکي د لوټمارانو په شان سلوک کوي. په مجموع کې، کندز د ناامنۍ د رژیم ټول لازم حالات او د کوکنارو د کرنې له پاره لازم شرایط لري، خو بیا هم لږ کوکنار کرل کیږي.

کیدای شي چې د کوکنارو د کرنې ټیټه کچه د دوه اصلي او مربوط عاملونو له مخې توضیح کړو. لومړی، په خلاف د بلخ او هلمند، د کندز د اوبو سیستم ډیر لږ د اوبو له نشتون سره مخامخ کیږي. بله دا چې، د اوبو کوزه غاړه کې د اوبو سطح د بیو فیزیک پر اساس د کوکنارو کرنه محدودوي. دوهم، په ځایونو کې چې د اوبو سطح لږه او ژر وچیږي، د اوبو شتون د وریژو او پنبې د کرلو امکانات برابروي، چې ښه ګټه هم لري. کندز له ډیر پخوا څخه د کاري قوي کمبود سره مخامخ دی، چې له نورو ځایونو څخه کارکوونکي په مهاجرت جذبوي. دغه ولایت د خوارو د حفاظت او په نسبي توګه ځمکې ته د لاس رسنې مساوي تاریخچه هم لري. دغه ټول عاملونه د تریاکو د کرنې اصلي چلوونکو نشتون په ګوته کوي چې په نورو ولایاتو کې یې د تریاکو کرنې ته لمن ور پورې کړې ده.

## ۶. په مخکی لاری

۲۰۰۴ کال کې، د ملګرو ملتو: د نشه یي توکو او جرایمو دفتر خبر ورکړ چې په کلمبیا کې د نشه یي توکو د ریښې ایستلو کوښښونه په زیاته کچه متکي پر دې دي چې بزګرانو ته نورې لارې خلاصې وي او بل دا چې کرنه د هیواد نویو او لا لرې سیمو ته ځای پر ځای شي.[۲۲] د کوکنارو نوموړې براورد په هغه کال کې بر خلاف د ریښې ایستنې د برنامه د ۱۳۲۰۰۰ هکتار په کچه شوي وو او د ۱۹۹۹ او ۲۰۰۴ کلونو تر منځ ۵۲۲۹۹۵ هکتار کوکاین له منځه ولاړل. ۲۰۰۵ کال کې ۱۲۵۴۰۰ هکتار نور کوکاین له ریښې وایستل شو، خو لاهم په همغه کال کې د کوکنارو کرنه زیاته شوه. افغانستان باید دغه تجربه په پام کې ونیسي او له دغه څخه یې زده کړې.

کوم اشخاص چې وایي چې د ریښې ایستنې برنامه باید په افغانستان کې د قانوني معیشت د انکشاف څخه مخکې اجرا شي، هغوی بې ځایه ادعا کوي چې د قانوني عایداتو لارې لا وختې موجودې دي او یا دا چې انکشافي سازمانونه کولای شي دغه لارې ژر تر ژره خلق کړي. یوه انګیرنه هم په عمل کې ربښتنی ثابته نشوه (هغه محصولات چې څوکاله حاصل ورکوي د هغو تر رسیدو پورې هم څو کاله پکار دي). دغه استدلال بې حده ناامنی څخه چې د نشه یي توکو د تولیداتو شرایط برابروي اغماض کوي. غیر قانوني محصولاتو باندې یوازې په یو لږ شمیر بې ثباته او ډیر له خطره ډک ځایونو کې تمرکز کیږي، چیرې چې د ژوند وړ نورې لارې نشته. د نورو لارو انکشاف، منابع، وخت، د کورنیو او محلي ټولنې اعتبار او داسې ماحول ته اړتیا لري چیرې چې اصول د اعتبار پر بنسټ ولاړ وي او خودسره مقامات موجود نوي. د ژوند وړ قانوني لارې د جوړولو څخه مخکې د هغو خلکو محصول تخریبول چې معیشت یې په زیاته کچه په کوکنارو باندې متکیه دی، د نشه یي توکو اوږدمهاله له منځه وړلو له په موخه د لازمو اساساتو د ایجادولو له پاره هیڅ کار هم ندی او نه هم دغه عمل د ناامنۍ رژیم په ګوته کوي چې د خلکو او دولت تر منځ د یو ټولنیزه تړون د جوړولو له پاره لومړی شرط دی.

په داسې حال کې چې، دغه استدلال باید داسې تعبیر نشي چې په بشپړه توګه د ریښې ایستلو برنامه اداره کوي. د ریښې ایستنې برنامه که د نشه یي توکو د کنټرول له نورو فعالیتونو سره یو ځای شي نو یوه مهمه برخه لوبولی شي. د ریښې ایستلو برنامه هلته کار کوي چیرې چې پراخ انکشافي پروګرامونه چې د ناامنۍ شرایط په ګوته کوي او قانوني عاید منابع قوي او متنوع کوي، موجود وي. او په هغه ځای کې چې د عایداتو نورې لارې

[۲۲] د ملګرو ملتو: د نشه یي توکو او جرایمو دفتر/ د کلمبیا دولت، ۲۰۰۵ کال، د کلمباد کوکاینو سروې ۲۰۰۴ کال، ۲۳ مخ.

موجودې وي، د ریښې ایستلو پروګرام هغه بزګران چې د نشه يي توکو په کرلو ټینګار کوي، هغو باندې زور اچولي شي. او چیرې چې د عاید نورې لارې نشته او له خطر څخه ډک ماحول کې، د ریښې ایستلو پروګرام هیڅ ګټه نلري او د بزګرانو تر منځ د پخپل سرې انګیزې راپیدا کوي او هغوی لا زیات کوکنار کري. او همدارنګه کیدای شي چې زور زیاتي او ناامني، د ملي مقاماتو پر مخ دښمني ته لمن ور پورې کړي او د کوکنارو کرنه داسې ځایونو ته انتقال کړي چې لاس رسنه ورته ظعیفه وي. او دا بلاخره هغه کوښښونه ظعیفوي چې غواړي د نشه يي توکو د ترقي حالات بدل کړي.

- د ریښې ایستلو برنامه د کوکنارو د اقتصاد پایښدونکي لړولو له پاره یوه لنډه لاره نده. د پیرو د روښاني لارې د حرکت، د کلمبیا د انقلابي غیر نظامي وسله واله سرتیرو او د تایلند د کمونستانو ګوند تجربې ښکاروي چې د امنیت او د اعتبار وړ دولت له جوړولو څخه مخکې د ریښې ایستنې یو سر زوره کامپاین تعقیبول د قانوني معیشت له پاره اساسات نه را منځته کوي او د دولت او خلکو تر منځ د ټولنیزه تړون د جوړولو کوښښونه به سست کړي.
- د نشه يي توکو د کرنې د منع کولو له پاره د محلي مقاماتو له خوا فشار او تهدید په خپله یو ډول د کوکنارو د ریښو ایستل دي. څنګه چې د ننګرهار ولایت تجربه څرګندوي، هغه اشخاص چې دارای/شتمنی ته محدوده لاس رسنه لري او یا کولای شو ووایو چې لږه شتمني لري او په زیاته کچه د کوکنارو په کرنه متکي دي، که هغوی د کوکنارو نه کرنې ته مجبور کړو نو د دوهم پرله پسې کال له پاره به پایښدونکي ثابته نشي او کیدای شي د مقاماتو په مخ خپګان را پیدا کړي.
- "د کار په بدل د پیسو " پروګرامونه نه د عایداتو کمې چې د ریښې ایستلو له کبله رامنځته کیږي (نه د محصول فزیکي تخریب او یا د نه کرلو لپاره زور او تهدید ) او نه دارایي ته د لاس رسنې سقوط، لکه ځمکه، قرض، چې د محصول د ضایع کیدو له کبله رامنځته کیږي ، جبرانولی شي. په هغو سیمو کې چې کورنۍ لږه سرمایه لري او عاید او منابعو ته د لاس رسنې له پاره په زیاته کچه د کوکنارو په کرنه متکي دي، هیڅ ډول لنډ مهاله حل لاره نشي کولای چې د ژوند وړ قانوني عاید امکانات وړاندې کړي.
- د ریښې ایستلو برنامه باید عاقلانه او هدفمنده وي. او دا په خپله یوه خاتمه نده خو یوه وسیله ده چې بزګران په راتلونکي کلونو کې د کوکنارو له کرنې منصرف کړي. که داسې وي چې یوازې د یو کال محصول تخریب کړي، او د راتلونکي کرنې له پاره حالات رامنځته کړي، دا برنامه به نه یوازې زیانمنه وي بلکه د خلکو او دولت تر منځ اړیکي به لا خرابې کړي.
- د ریښې ایستنې هدفمنده برنامه د خطر او د امکاناتو د قیمت د اندازو پوهې ته اړتیا لري او دا چې چیرې د ریښې ایستلو برنامه کولای شي دغه اندازې په عادلانه او اغیزمنه توګه اوچته کړي بې له دې چې خلک محکوم په نیستي او خواري کړي. په دغه شان حالاتو کې، د ریښې ایستنلو برنامه کولای شي د کورنیو پریکړې بدلې او په راتلونکي کلونو کې د کوکنارو له کرنې څخه منصرف کړي. په سیمو کې چې د کوکنارو کرنې د امکاناتو بیه ډیره ټیټه ده، تمرکز باید په ریښې ایستنې باندې نه بلکه دولت جوړونه او د عایداتو د امکاناتو په راپیداکولو او متنوع کولو باندې وي.

ګواښ د داسې یو تفاهم جوړول دي: او یوازې کولای شو اړونده ثانوي ډیټا (لکه د ملي خطر او زیان منلو د پروګرام ډیټا ) څخه چې ساحوي کیفیتي مطالعو، په شمول د ولسوالیو د کوکنارو کرنې د تحقیقاتو د نمونو، پر بنا ولاړه ده، د منظمې استفادې له لارې تر سره کولای شو. اغیزمنه او هدفنده د ریښې ایستنې برنامه د ثبوت جوړونې له پاره خاصې پانګې اچونې ته اړتیا لري.

دافغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) یوه مستقله اداره ده چې د عمل او زده کړې وړ څېړنې تر سره کوي او هم د څېړنې فرصتونه برا بروي چې په نتیجه کې به په پا لیسي جوړولو کې مرسته کوي. همدا رنګه نوموړې مرکز په فعا له توګه د څېړنو او زده کړې رواج ته وده ورکوي تر څو د تجزیې او تحلیل کولو ظرفیتونه په افغا نستا ن کې پیاوړې شي او هم د تجزیې او تحلیل، فکر کولو او مباحثې فرصتونه برابر شي. د دې اداري بنیا دي لرلید دادی چې د نوموړي مرکز د کار په نتیجه کې با ید د ا فغا نا نو ژوند بهبو د ومومي.

نوموړي اداره په ا فغا نستا ن کې د مرسته کونکې ټولنې په مرسته منځ ته را غلی ده چې مدیره هیت یې له ملګرو ملتونو (UN)، تمویلوونکو ادارو، ملي او بین ا لمللي ادارو څخه نما ینده ګی کوي.

د نوموړي اداري اوسني بودجه د ملګرو ملتونو د مرستندویه هیأت (UNAMA)، د اروپا کمیسون (EC) ملګرو ملتونو د مهاجرینو عالی کمیشنری (UNHCR)، د هالنډ د مهاجرینو موسسه (Stichting Vluchteling)، نړیوال بانک (WB)، د بریتا نیا د بین ا لمللي انکشا ف د اداري (DFID) او د کانا دا، سویدن، نوروی، سویتزرلند، دنمارک هیوادونو له خوا ورکول کیږي.

د لا زیا تو معلوماتو او یا د خپرونو د لاسته راوړلو لپاره په دې پته تما س ونیسی.
د څیړنې او ارزونې اداره:
د ګل فروشی کوڅه (د ۲می کوڅې ګوښه) نوی ښار کا بل، افغانستان.
ټیلیفون: ۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸ (۰) ۹۳+
زموږ بریښنا پته او بریښنا پاڼه: www.areu.org.af / areu@areu.org.af